# مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ». «څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، نو هغه دې يا د خير وينا وکړي او يا دې چوپ پاتې شي، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، نو هغه دې د خپل ګاونډي درناوی وکړي، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري نو هغه دې د خپل ميلمه پالنه وکړي».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هغه بنده چې په الله او د آخرت پر هغې ورځې ايمان لري چې هغې ته به ورګرځي او په هغې کې به د عملونو بدله ورکړل کيږي، نو هغه لره به يې ايمان دې خويونو ته هڅوي: لومړی: ښه وينا: د الله تعالی له حمد او ثنا ويلو څخه، په نيک امر کول، له بديو څخه منع کول او د خلکو تر منځ روغه کول، که چېرته يې داسې ونه کړل؛ نو غلی دې پاتې شي، له اذيته دې لاس واخلي او د خپلې ژبې ساتنه دې وکړي. دويم: د ګاونډي عزت کول: له هغه سره ښه کول او ضرر ورته نه رسول. دريم: ستا د ليدو لپاره د راغلو ميلمنو عزت کول: په ښايسته خبرو، خوړو ورکولو او داسې نورو - کارونو - سره.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5437